## <u>د یو دعوتګر مړینه</u>

**﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً﴾**

**ژباړه:** *«له مومنانو څخه ځینې داسې شخصیتونه شته چې له الله سبحانه و تعالی سره یې کړې ژمنه رښتیا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی په خپله کړنلاره کې هېڅ بدلون رانه وړ.»* [احزاب: ۲۳]

حزب التحریر د فلسطین په سپېڅلې خاوره کې د خپل یو رښتیني غړي په مړینه ډېر خواشینی دی:

**شیخ عطاء الله طه صالح ریا ـ (ابو طه)**

چې خپل روح یې د ۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ په ۱٦مه په بیت المقدس کې خپل خالق ته وسپاره، هغه په ژوند کې د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په پیروۍ او د دعوت په لاره کې اسلام ته وفادار پاتې شو.

مرحوم یو له باخبره غړو څخه و، موږ هغه ته د خپل رب څخه ښښنه او د اسمان او ځمکې په اندازه جنت غواړو. هغه د حزب التحریر سره دعوت پر مخ بېولو او د حق پیاوړی مدافع و، د ظالمانو پر وړاندې کلک ولاړ و او د الله سبحانه و تعالی په لاره کې د خلکو له ملامتیا نه وېرېده، د خلکو تر منځ د پخلاینې او ښېګڼې په لټه کې و، چې ډېری جوماتونه د هغه د خبرو شاهد دي. لکه څنګه چې له هغه څخه داسې ناسته پاتې نه شوه چې هغه د الله سبحانه و تعالی لوري ته خلک نه وي رابللي، په ښېګڼو یې امر کاوه او له بدیو څخه منع.

الله سبحانه و تعالی د زموږ پر ګران ورور ابو طه رحم وکړي، هغه تر وروستیو شېبو پورې له دعوتګرو سره مینه درلوده، روشنفکره او متواضع سړی و، چې دا یې له خپلو وروڼو سره په تیلفوني پیغام کې څرګند کړل، چې ویل یې:

«تاسو ماته ګران یی، زما وروڼه او زما د سر تاج یی او زه د الله سبحانه و تعالی شکر ادا کوم چې کله زه له دې نړۍ څخه لاړ شم، زه دا نړۍ داسې چا ته پرېږدم چې هغوی ټینګ عزم او ثابت ګامونه پورته کوي او زه ویاړم چې له دوی سره پېژنم او له دوی سره مې دعوت پر مخ وړلو.»

موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې پر خپل بنده رحم وکړي او هغه له انبیاوو، صدیقینو، شهداوو، صالحینو او غوره ملګرو سره یې جنت ته داخل کړي.

ټول په الله سبحانه و تعالی پورې اړه لري، چې څه ورکوي او څه اخلي. موږ د الله سبحانه و تعالی یو او هغه ته ورګرځو.

**د فلسطین په سپېڅلې خاوره کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۴مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱٦مه**

**د صدور ګڼه: ۰۹/ ۱۴۴۲**